# د شیخ خالد راشد د توبې کیسه.

ددغه داستان ( کیسې) په لوستل مو ژوند بدلیږي.



Ketabton.com

ژباړه: عبدالرحمٰن " ابراهیمي"

کال: ۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شیخ خالد راشد وايي:** عمرمې له دېرشو کلنو څخه نه وو زيات شوی، چې د ميرمنې مې لومړنی زوی پيدا شو، تر اوسه هغه شپه مې لا تر اوسه پورې په ياد ده، چې د شپې تر اخري حصې پورې مې له ملګروسره مې په هوټل کې وم هوټل له ميلمنو څخه ډک و. په بيهوده، لهو لعب،.غيبت حرام او دې ته ورته حرامو کارونو مسخرو؛ زه هغه څوك وم چې ډېر وخت به مې دا خلك خندول او دوی به خنديدل هغه شپه مې لا په ياد ده، چې دوی مې ډېر زيات وخندول. د خلکو په خندولو کې ما يوه عجيبه ځانګړنه درلودله حتی کولای مې شوی چې غږ مې د هغه چا په څير کړم په کوچا پورې به مې چې ملنډې او مسخرې ووهلې. هو ريښتيا له ما په دغه، هغه او هغوی (ټولو) پورې خندل او ملنډې مې پرې وهلې حتی تر دې چې خپلوان او دوستان مې را څخه ارامه نه وو ځينو خلکو به له ماڅخه لرې والی غوره کولو له ما څخه به لرې ګرځېدل تر څو زما له ژبې څخه په امن کې وي.

هغه شپه مې لا په ياد ده چې په يو ړانده سړي مې رشخند او ملنډې وهلې: هغه په بازار کې خيرات غوښتلو ګدايي يې کوله تر ټولو ناوړه خو دا وه چې هغه ته مې پښه کيښودله او سر په تندي پړمخکه را پرې وتو او ولويدو.په دې نه پوهېدولو چې څه وه وايي په دې وخت کې زما خندا په ټول بازار کې انګازې خورې کړې.

د تير په شان کورته ناوخته لاړم : ميرمن مې په په ډېر سخت ناوړه او دردونکي حال کې وليده، چې زما انتظار يې کاوه په لړزيدلي او غريو نيولي غږ يې راته وويل راشده! چېرته وې!؟په منلډو او رشخندی سره مې وويل، چې د مريخ په کره کې وم..... د تل په شان له ملګرو سره مې...!

له ورايه ښکاريده چې ډېر ناوړه او سخت درد لري. په داسې حال کې چې له سترګو يې اوښکې روانې وې او په ستوني نيولي غږ يې وويل راشده! زه سخت درد لرم داسې معلوميږي، چې زما ده زوکړې/ زيږون وخت دی اوهغه دنيا ته په راتلو دی.

پر مخ يې ترمې اوښکې راغلې؛ داسې مې و انګيرله، چې د ميرمنې په حق کې مې بې غورې اوظلم کړی په کار وه چې ميلمستياوې مې کمې کړې واې په ځانګړې توګه په نهمه مياشت کې او هغې ته مې پاملرنه کړې وای.

په ډېرې چټکۍ سره مې هغه تر زيږنتون پورې ورسوله د زيون واټ (خونې) ته يې ننه ايستله چې له دردونو او ستونزو سره لاس او ګريوان وه په بيړې او بې صبرۍ يې د زيږون په انتظار وم، زيږون يې ډېر سخت وو ډېر انتظار مې وکړ او نور ستړی شوم د ګرځنده لرغږي/ ټليفون شمېره مې په زيږنتون کې دوی ته پرېښودله تر څو ماته زيری را کړي او کور ته لاړم. يو ساعت وروسته يې راته زنګ وکړ او ماته يې د سالم د پيدا کېدو زيری را کړ په ځټکۍ مې تر زيږنتون پورې ځان ورساوه د لومړنيو کسانو په ليدو مې له هغوی نه د هغې د خونې پوښتنه وکړه دوی له ماڅخه غوښتنه وکړه چې له هغې ډاکټرې سره وګورم کومې چې زما د ميرمنې د سمباله ولو او درملنې مسؤليت پر غاړه وه په قهر جنه لهجه مې پرې غږ وکړ ډاکټره څوك ده؟ مهمه دا وه چې سالم وګورم.

د ډاکټرې خونې ته لاړم! ډاکټرې د سالم د معيوبيت او د الله ﷻ د رضاء او قضاء په اړه له ماسره خبرې وکړې! او وروسته يې وويل: ستاسې د زوی په سترګو کې لوی عيب دی کيدای شي چې ړوند وي سر مې په خپل ګريوان کې ښکته کړ له سترګو مې اوښکې لاړې ( هغه ړوند خيرات غوښونکی مې سترګو ته ودريدو په کوم مې چې بازار کې رشخند وهلی و او پړمخکه راوغورځيدو او خلکو پرې خندل)

سبحان الله هغه متل دی چې وايي څه چې کرې هغه به ريبې: يوه شيبه ګنګی شوم په دې نه پوهيدم چې څه وه وايم وروسته مې ميرمن او زوی را ياد کړل له ډاکټرې څخه مې د هغې د مهربانی او زړه سوي په خاطر له هغې مننه وکړه. او لاړم تر څو مې ميرمن وګورم.ميرمن مې زما په شان پريشانه او خپه نه وه! هغې د الله ﷻ په قضاء ايمان درلودو هغه خوښمنه او راضي وه. ډېر وخت به يې ماته نصحت کولو ،چې په خلکو باندې له مسخرو، ملنډو استهزاء څخه لاس په سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شه او له دې کارونو څخه تېر شه تل به يې راته ويل، چې د نور خلکو غيبت مه کوه.له زيږنتون څخه را ووتلو **سالم** مو له ځان سره راواخيست او کورته راغلو. په حقيقت کې مې هغه ته ډېره پاملرنه نه کوله هغه مې په کور کې نه ليدو هېڅ مې دا خيال نه وو، چې هغه دې په کور کې وي فکر مې کولو چې په کور کې نشته ډېر زيات به يې ژړل کله به يې چې ډېر ژړل د خوب لپاره به بلې خونې ته ترې وښتيدم، خو ميرمنې به مې هغه ته ډېره پاملرنه کوله اوهغه ورته ډېر گران وو ډېره مينه يې ورسره کوله، خو زما به ترې بد نه راتلل مگر نه شو مې کولای، چې له هغه سره دې مينه وکړم!!!

سالم را لوی شو په سينه يې ښوويدل او حرکت کول تګ راتګ پيل کړ عمر به يې يو کالن کيدو ته نږدې وو چې په لاره د تللو هڅه يې کوله، خو پوه شوم چې هغه په پښو هم فلج دی له مخکيني حالت څخه دا نوره هم ماته ستونزمنه شوه.

له **سالم** څخه وروسته د ميرمنې مې عمر او خالد په نومونو دوه نورا زامن هم وزيږيدل. کلونه تير شول سالم را لوی شو، ورونه يې هم لوی شول. نه مې خوښيدل چې کور دې کېنم همېشه به مې له ملگرو سره وم په حقيقت کې زه د دوی دلاس لانځکه (گودي) وم.ميرمن مې ناهيلې نه وه هميشه به يې الله ﷻ ته زما د هدايت غوښتلو دعاء کوله او زما پر احمقانه کړنو به نه غصه کيدله، خو هغه به په دې ډېره ناهيلې او خفه وه، چې مابه سالم ته کومه ځانگړې پاملرنه نه کوله او پاتې دوو ورڼو ته به مې يې ډېر ارزښت ور کولو سالم را لوی شو، خو له هغه سره زما کينه نوره هم زياته شوه، هو کله مې چې ميرمنې وغوښتل هغه په يوه لرې پاتې مدرسه کې داخل کړي او نوم ليکنه يې وکړي هېڅ کوم ډول غبرگون مې ونه ښود هېڅ کله مې هم د تيرو کالونو په اړه دا حس ونه کړ، چې بده ورځ مې وه. کار کول، خوراک، ميلمستياوې، بيده کيدل اوخوب وو.

د جمعې په ورځ د غرمې په يوولس بجو له خوبه را پاڅيدم، هميشه به دا وخت له خوبه پاڅېدل ماته وختي وو، يو ځای يوې ميلې ته دعوت شوی وم کالي مې پرتن کړل عطر مې ووهل غوښتل مې له کوره ووځوم له کور څخه په تيردو د سالم پرليدولو ودريدم سخت يې ژړل! دا لومړنی ځل وو چې د کور په شاوخواکې مې سالم ته پاملرنه وکړه د ماشومتوب له وخته يې چې ژړل لس کاله تير شوي وو چې هغه ته مې هېڅ پاملرنه نه وه کړې هڅه مې وکړه چې په يوه بهانه او بې خبرۍ ځان ناخبره کړم خو ومې نشو کولای د ژړا غږ مې يې اوريدلو، مور ته يې چيغې وهلې او زه په خونه کې وم د هغه لوري ته وروگرځيدم او وروسته هغه ته ورنږدې شوم پوښتنه مې تر وکړه سالمه! ولې ژاړې؟!!!!

کله يې چې زما غږ واوريدو ژړا يې ودريده او غلی شو خو کله يې چې دا احساس وکړ زه يې په څنگ کې يم په کوچنيو لاسونو يې په خپل شاوخوا کې وگرځيدو. څه شوي دي؟ څه شی گورې؟ پوه شوم چې هڅه يې کوله له ما څخه لرې شي داسې لکه غواړي چې ووايي اوس دې حس کړم دا لس کاله چې تيرشول چېرته وې؟ په هغه پسې ښارو شوم خونې ته دننه شو لومړی يې نه غوښتل، چې د ژړا علت يې راته ووايي هڅه مې وکړه چې هغه غلی يې کړم او ارامه شي تر څو يې د خپلې ژړا علت راته وويلو او ما ورته غوږ نيولی وو او لړزيدم.

**پوهيږئ د ژړا علت يې څه وو؟** ورور يې عمر! چې معمولاً به يې هغه جومات ته بيولو، نن ورځ يې جومات ته د بيولو لپاره په هغه ناوخته کړې وه ځکه د جمعې د لمانځه وخت وو او هغه دې ته خپه وو چې په لومړي صف کې به ځای پيدا نه کړي عمر ته يې غږ وکړ مور ته يې غږ وکړ خو د چا ځواب يې وانه وريدو.له دواړو ړندو سترگو نه يې اوښکې روانې وې نه شو مې کولای چې ورته وگورم او نورې خبرې يې واورم په خوله مې ورته لاس کېښود او ورته مې وويل اې سالمه د همدې لپاره دې ژړل؟؟!!

ويې ويل: هو!!!

ملگري مې هير کړل، ميله مې هيره کړه او ومې ويل سالمه مه خپه کيږه ايا پوهيږې چې نن دې څوك مسجد ته بيايي؟

ويې ويل: عمر خو هغه همېشه ناوخته کوي.

ومې ویل: نه! بلکې زه به دې بیایم.!!!

سالم هک پک او حیران شو باور یې ونه کړ داسې یې وانګیرله چې زه په هغه باندې ملنډې وهم اوښکې یې له سترګو روانې شوې او بیایې په ژړا پیل وکړ په لاسونو مې یې اوښکې پاکې کړې لاس مې یې ونیولو غوښتل مې هغه په موټر کې کېنوم ویې نه منله او ویې ویل جومات نږدې دی غواړم تر جوماته پورې په پښو لاړ شم تر څو یې ثواب ډېر شي په الله ﷻ قسم چې داسې یې وویل.

نه مې په یادیږي چې اخري ځل مې څه وخت وو چې جومات ته تللی وم خو دا مې لومړنی ځل ووچې د پښیمانی احساس کوم او په هغه څه باندې پښیماني کوم چې لس کال وړاندې مې په کې غفلت کړی وو. جومات له لمونځ کوونکو څخه ډک ؤ تر دې پورې چې په لومړي صف کې مې سالم ته ځای پیدا کړ دواړه د جمعې خطبې ته غوږ وو او زما په څنګ کې یې لمونځ وکړ په حقیقت کې ما د هغه په څنګ کې لمونځ وکړ.

وروسته له لمانځه څخه سالم له ما څخه قران کریم وغوښت تعجب شوم چې څرنګ هغه قران کریم وایي په داسې حال کې چې هغه په دواړو سترګو ړوند دی غوښتل مې د هغه دغه غوښتنه هسې بې ځایه وګڼم او تېرې تېر شم او پاملرنه ورته ونه کړم خو ما له ده سره د نرمۍ اوعاجزۍ سلوک کول د همدې سبب په خاطر مې د هغه احساستو او ولولو ته د صدمې او ضربې رسدلو څخه ویره لرله.

قران کریم مې هغه ته ورکړ او له ما څخه یې غوښتنه وکړه چې سورة الکهف ورته پیدا کړم کله به مې د قران کریم ورقې اړوې را اړوې او کله به مې د قران کریم د سورتونو لیکلړ (فهرست) کتلو تر څو هغه پیدا کړم.

قران کریم یې له ماڅخه واخیست او خپلې مخې ته یې کېښود او په لوستلو یې پیل وکړ په داسې حال کې چې دواړه سترګې یې بسته وې یا الله په ریښتیا چې هغه ټول سورة الکهف له یادو وویلو.و شرمیدم قران کریم مې را واخیست هغه وخت مې ټول وجود په لړزه وو او قرئت مې وکړ او له الله ﷻ څخه مې مرسته وغوښتله چې ماته ښښنه وکړي او ماته نیغه لاره وښایي ومې نو شو کولای چې ځان کنټرول کړم د ماشومانو په شان مې په ژړا پیل وکړ ژړل مې خلکو په هم د سنت لمانځه په اداء کولو بوخت وو زه له دوی څخه شرمیدلم هڅه مې کوله چې خپله ژړامې ودروم، خو ژړا مې په هق هق او زاریو بدله شوه.

یوازې د یوه شي احساس مې کولو د کوچنیو لاسونو چې زما پرمخ به راکیښل کېدل او زما اوښکې یې پاکولې سالم وو د سالم کوچني لاسونه وو هغه مې په سینه پورې ټینګ ونیولو او هغه ته مې وکتل او له ځان سره مې وویل ته نه یې ړوند بلکې زه ړوند یم کله چې مړ شم د جهنم اور ته به اچول کیږم.

کله چې بیرته کورته راغلم میرمن مې ډېره ناقراره وه او په سالم پسې خفه وه، خو چې پوه شوه زه له سالم سره د جمعې لمانځه لپاره جومات ته تللی وم، نو اندیښنې، خفګان او ناقرارۍ یې د خوشحالۍ په اوښکو بدلې شوې.

له هغې ورځې ورسته مې په جومات کې لمونځ په جمعې نه دی پرې ایښی بد او خراب ملګري مې پرېښودل او زما لپاره تر ټولو غوره ملګري هغه کسان شول، چې په جومات کې مې پیدا کړل له هغوی سره مې د ایمان خوند وڅکلو ډېر څه مې ورنه زده کړل چې دنیا له هغو څخه غافل کړی وم د ذکر او وترو لمونځونو حلقې مې پرې نښودې په یوه میاشت کې مې څوځلې قران کریم ختم کړ ژبه مې دالله ﷻ په ذکر باندې لمده شوه شاید الله ﷻ به ماته د خلکو غیب کول په هغوی باندې ملنډې وهل را ښښلي وي داسې مې و انګیرله چې له کورنۍ سره مې ډېر نږدې شوی یم د میرمنې په سترګو کې به چې زما په اړه اندیښنې او خواخوږۍ ښکارېدې هغه ورکې شوې. د سالم زوی له مخ نه مې چې کومې خندا ګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکې شوې وي بيرته راغلې هر چابه چې سالم وليد فکر يې کاوه چې هغه د ټولې نړۍ پادشاه دی او هر څه د هغه دي د الله ﷻ ډېر شکر کوونکی شوم.

يوه ورځ داسې وه چې زما خپل صالح ملګري يوې لرې سيمې ته د دعوت لپاره لاړشي له هغوی سره د تللو لپاره زړه نازړه (دوه زړی) وم استخاره مې وکړه له ميرمنې سره مې پرې مشهوره وکړه ګمان مې کولو او ددې په انتظار وم چې ماته به د تګ اجازه نه را کوي او مخالفه به وي، خو برعکس ددې شو.

ډېره خوشحاله شوه بلکې زه يې ددې ته وهڅولم ځکه مخکې به يې زه ليدم د هغې له مشهورې به زه فسق او فجوراتو ته تلم.

سالم ته مې مخ ور واړو او هغه ته مې وويل چې زه په مسافرت باندې ځم په کوچنيو متو يې ټينګه غېږه را کړه او له ماسره يې الله پاماني وکړه.

درې نيمې مياشتې له کور څخه لرې وم په دغه موده کې به مې چې هر ډول فرصت يا وخت پيدا کړ کورته به مې زنګ کولو د بچيانو احوال به مې ترې اخيستلو؛ ډېر راته يادېدل آآآآه څومره ډېر مې سالم يادېدو تمه مې لرله چې غږ يې واورم هغه يوازنی څوک وو چې مسافر شوی وم له ماسره يې خبرې نه وې کړې کله به مې چې زنګ وکړ هغه به يا په مدرسه کې وو يا به په جومات کې.

هر ځلې به مې له ميرمنې سره په دې اړه خبرې کولې چې خفه شوی يم در پسې يادېږې راته خندل به يې او ډېره به خوشحالې ده تر دې چې په اخر ځل مې هغې ته زنګ وکړ د کومې خندا په انتظار چې وم وامې نه وريده او غږ يې بدل شوی وو.

هغې ته مې وويل زما سلام سالم ته وايه ويې وويل إن شآءالله او وروسته بيا غلې شوه.

بلاخره کورته راغلم در وازه مې وټکوله تر څو سالم راته در وازه خلاصه کړي؛ خو ناڅاپي مې خالد زوی چې عمر به يې له څلورو کالونو څخه نه وو زيات شوی وليدو هغه مې په غېږه کې ټينګ ونيو په داسې حال کې چې چيغې او سورې يې وهلې بابا! بابا! بابا! نه پوهېدم ولې يې نفس بند شو کله چې کورته د ننه شوم.

له الله ﷻ څخه په شيطان رټل شوي پناه غواړم...

د ميرمنې طرف ته مې لاړم دمخ رنګ يې الوتی وو ځان يې خوشحاله ولو لږه شېبه مې صبر وکړ وروسته مې له هغې څخه پوښتنه وکړه په تاسې څه شوي دي؟ ويې ويل څه نه! ناڅاپي مې سالم ذهن ته راغی ومې ويل سالم چېرته دی؟

سر يې ښکته ځوړند شو هېڅ غږ يې ونه کړ ځواب يې را نه کړ پر اننګو يې ګرمې اوښکې راغلې.

چيغه مې کړه سالم! سالم چېرته؟

په دې وخت کې مې يوازې دخالد غږ تر غوږو شو چې وويې ويل بابا! مړ شوو. ميرمنې نشو کولای چې ځان کنټرول کړې ځکه ژړل يې نږدې وه چې پر ځمکه ولويږي له خونې څخه بهر شوم.

وروسته بيا په دې پوه شوم چې زما له راتګ څخه دوه اونۍ مخکې په سالم سخت تبه راغلې وه ميرمنې مې هغه روغتون ته بيولی و، خو تبه يې نور هم پسې زياته شوې وه تر دې چې له کالبود (جسد) څخه يې روح جدا شوی وو.

کله چې ځمکه دربانديې تنګه شي چېرته ځې؟

او کله دې چې زړه تنګ شي څه بايد وکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیغــې کــړه یا الله..... او کلــه دې چــې زور خــتم شي او تــولې لاړې وتــړل شي، تمــې او هیلــې پــای تــه ورســیږي او هــر بنــد خــــیږې شي غـــــبر وکـــــړه یا الله ! یا الله! یا الله! یا الله! یا الله! یا الله! یا الله! یا الله! یا الله لا إله الا أنـــــت الله رب الســــموات الســــبع ورب العــرش العظـیم. له پخوانیــو خلکــو څخــه یــو کــس، چــې پــه ســترګو ړونــد، پــه پښــو او لاســونو شــل، د سر او پوســتکي پــه یــو ډول ناروغي(چې د بخار سبب ګرځي) هم اخته و داسې به یې ویل:

( الحمدُ للهِ الذي عافَانِي مِمَّا ابْتلاكَ به ، و فَضَّلَنِي على كَثيرٍ مِمَّنْ خلق تَفضِيلًا ، لَمْ يُصِبْهُ ذلكَ البلاءُ)

الراوي : أبو هريرة | المحدث : السيوطي | المصدر : الجامع الصغيرالصفحة أو الرقم: 8667 | خلاصة حكم المحدث : حسن

ژباړه: د الله ﷻ ډیــر شــکر او حمدونــه دي چــې زه یــې د ډیــرو هغــه مصــیبتونو څخــه ژغــورلی یم او له هغــو څخــه یــې محفــوظ کــړی یم، چــې نــور پــرې مبــتلا دي او مــا تــه یــې پــه هغــوی غــوره والی را کــړی چــې پــه هغــې بــلاء بانــدې دې زه نــه یم اختــه شوی.

یــو کــس یــې تــر څنــګ تــیر شــو او ورتــه یــې وویــل تــه له کــوم کــوم شي نــه الله ﷻ مصــئون کــړی یــې؟ ړونــد پــه بــد حــال، چټــل سپوږی سپوږی او فلج یې نو ته الله ﷻ له کوم کوم شي نه مصئون ژغورلی یې؟

**ویـــې ویـــل:** ســتا پــه حــال دې افســوس وي اې ســړیه ! ماتــه یــې پــه ذکــر لمــده ژبــه شــکرګزاره زړه او پــر مصــیبونو صــبر لــرونکی تن او جسم را کړی.

**اللهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ، فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ.**

ژباړه: یا الله ﷻ تا چــې نــن ســبا پرمــا او ســتا پــه بــل هــر مخلــوق خــپله لورینــه ولــوروله دا یــوازې ســتا پېرزوینــه ده تــه یــو یــې او شریك نه لرې تاته تولې ستاینې او شکرانې دي.﴿وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ شَيطانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ﴾

سُوْرَةُ الزّخرُف : ٣٦

څــوك چــې د الــرحمان (الله ﷻ) له ذکــر څخــه ځــان پــه غفلــت کښــې اچــوي، مــوږ پــر هغــه بانــدې یــو شــیطان مســلطوو او هغــه یې ملګری کیږي.

مسـلمانه ځوانــه د دغــې کیســې پــه اوریــدلو او لوســتلو څــه إحســاس کــوې؟ نــه شــې کــولای نــور له ګنــاهو نــوسره مخــه بنــه وکــړې او ګناه ته (نه) وه وایې؟

ومن الله التوفیق **ابراهیمي**

شوال ۱۴ ــــــ ۱۴۴۱

جدة، المملکة السعودیة العربیة

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**